د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه



له اداري فساد سره د مبارزې پلان ارزونه

# د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت

۱۳۹۷ کال د غبرګولي میاشت

**کابل-افغانستان**

/MEC_Afghanistan www.mec.af /mec.afghanistan

# Acronyms

| | |
|---|---|
| AAIP | Afghanistan Agricultural Input Project |
| AC | Anti-Corruption |
| ACP | Anti-Corruption Plan |
| AILA | Afghanistan Independent Land Authority (also known by “ARAZI”) |
| CBCMP | Capacity Building Change Management Program |
| CCA | Call Center Agent |
| CIA | Certified Internal Auditor |
| FCC | Farmer Call Center |
| GCDD | Government Cases Department Directorate |
| GIRoA | Government of the Islamic Republic of Afghanistan |
| GIS | Geospatial Information System |
| GIZ | Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (Germany’s International Aid Agency) |
| GPS | Global Positioning System |
| IIA | Institute of Internal Auditors |
| ITHD | IT Help Desk |
| MAIL | Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock |
| MEC | Independent Joint Anti-Corruption Monitoring & Evaluation Committee |
| MIS | Management Information System |
| MDL | MAIL Digital Library |
| MoCIT | Ministry of Communication and Information Technology |
| NHLP | National Horticulture and Livestock Productivity Project |
| NP | National Program |
| OFWMP | On-Farm Water Management Project |
| PMS | Procurement Management System |
| SMAF | Self-Reliance through Mutual Accountability Framework |
| SMART | Specific, Measurable, Achievable, Results-Oriented, Time-Bound |
| SMS | Short Message Service (text message) |
| USAID | United States Agency for International Development |
| VOIP | Video Over Internet Protocol |

# محتویات


د راپور لنډیز ........ ۲
سریزه ........ ۲
میتودولوژي ........ ٤
۱. د تدوین پړاو ........ ٤
۲. د پلي کیدو پړاو ........ ٥
۳. د څارنې او ارزونې پړاو ........ ۱۲
پایله ........ ۱۲
د څارنې او ارزونې کمیټې سپارښتنې ........ ۱۳

# د راپور لنډیز

د متقابلې حسابورکونې د کاري چوکاټ له لارې په ځان بسیاینې سند(SMAF) د افغانستان ټول عایداتي وزارتونه مکلف کړل چې  د ۱۳۹۴ کال تر پایه، له اداري فساد سره د مبارزې خپل پلانونه تدوین او د پلي کیدو له بهیر څخه یې خلکو ته راپور ورکړي. وروسته، پاتې نورو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې له اداري فساد سره د مبارزې خپل پلانونه د ۱۳۹۵ کال تر پایه بشپړ کړي. ۱

د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه(MEC) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان ارزولی دی.

د یادې ارزونې موخه د یاد  وزارت له اداري فساد سره د مبارزې د پلان د تدوین ، پلې کولو، څارنې او ارزونې د پړاونو د نیمګړتیاوو په ګوته کول او د نیمګړتیاوو د لمنځه وړلو په موخه  د  ځانګړو سپارښتنو  صادرول دي.

د څارنې او ارزونې کمیټې د ارزونې موندنې ښیي چې د کرنې وزارت د زیانمننو او خطرونو د تشخیص په موخه د "احتمالي خطرونو ارزونه" نه ده ترسره کړې.

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان ۳ موخې[۲] او ۱۳ فعالیتونه لري. د ۱۳ فعالیتونو څخه یوازې ۲ فعالیته چې د بزګرو د ټلیفوني اړیکو مرکز او د دیجیټلي کتابتون پرانیستلو په اړه دي، په بشپړه توګه پلي شوي دي.  پاتې ۸ فعالیتونه د "SMART " منل شویو شاخصونو سره سم نه دي چمتو شوي، نو ځکه د یادو فعالیتونو د پلي کیدو کچه تر اوسه ناڅرګنده ده. یاد فعالیتونه په لاندې ډول دي: د ام- پلز(M-Pulse) دیتابیس سیستم له لارې د کرنې وزارت د شتمنیو مدیریت، د تدارکاتو د مدیریت سیستم طرحه او پلي کول، د هرې پلي شوې پروژې لپاره د جي پي اس(G.P.S) موقعیتونو تشیخصول، د ښاغلي وزیر په دفتر کې د اسنادو د کنټرول سیستم طرحه او پلي کول، د معلوماتي تکنالوژۍ د معلوماتو د مرکز طرحه او پلي کول، د کرنې وزارت په ۷ برخو کې د سیسکو ټلیفونونو(Cisco) فعالول، د کرنې وزارت د ثابتو شتمنیو ثبتول او د کرنې وزارت د غصب شویو ملکیتونو د تشخیص لړۍ بشپړول.

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان یو فعالیت، چې د مدیریت د یوه شفافه سیستم د طرحې او پلي کولو په اړه دی، په ۲۰۱۶ کال کې پلي شوی دی. یاد فعالیت پرته له دې نه چې د پرمختګ پاتې سلنې ته یې اشاره وشي، اوس هم د نوموړي وزارت د ۲۰۱۷ کال له اداري فساد سره د مبارزې په پلان کې شامل دی.

په ورته وخت کې، د یاد پلان ځیني فعالیتونه په کرنې وزارت کې له اداري فساد سره د مبارزې او لمنځه وړلو سره په مستقیمه توګه تړاو نه لري، د بیلګې په توګه، د بزګرو د اړیکو د مرکز تاسیس. خو بیا هم د څارنې او ارزونې کمیټه دا مني چې د بزګرو د اړیکو مرکز ښایي خلکو ته دا فرصت مهیا کړي چې د فساد د شکمنو قضیو په اړه معلومات ورکړي.

همدا راز، له اداري فساد سره د مبارزې پلان د فعالیتونو د پلي کیدو لړۍ څخه د څارنې په موخه د کرنې وزارت یو ټیم ګمارلی دی، ترڅو د فعالیتونو د پلي کیدو تشې او نیمګړتیاوې په ګوته او په دې اړه خپلې موندنې د یاد وزارت مشرتابه ته وړاندې کړي.

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د ښه والي او د پلان د پلي کیدو لړۍ څخه د سمې څارنې په موخه، د څارنې او ارزونې کمیټه، د کرنې وزارت ته د دې ارزونې په ترځ کې ۵ سپارښتنې صادروي.

په ټوله کې، د څارنې او ارزونې کمیټې بیا کتنه دا ښیي چې د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان داسې بریښي چې یوازې د " SMAF " سند د رسمي شرایطو او اړتیاوو د پوره کولو په موخه تدوین شوی دی. د اداري فساد سره د مبارزې یاد پلان، د کرنې وزارت د فعالیتونو او کړنلارو  د خطر د یوې کره او رسمي ارزونې او یو روښانه پلان پر بنسټ نه دی تدوین شوی چې د اداري فساد د خطرونه کچه کمه کړي.

---

۱ افغانستان اسلامي جمهوریت، د SMAF ، ضمیمه: لنډ مهاله ژمنې تر ۲۰۱۶، او د ۲۰۱۷ کال تر جنورۍ میاشت پورې.

۲ د  ۲۰۱۷ کال لپاره کرهنې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلا

# سریزه

د متقابلې حسابورکونې د کاري چوکاټ له لارې په ځان بسایني سند(SMAF) پر بنسټ، د هیواد پنځه عایداتي وزارتونه( د مالیې وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت، د ترانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت) مکلف دي چې د ۲۰۱۵ کال تر پایه خپل له اداري فساد سره د مبارزې پلانونه چمتو کړي. وروسته، پاتې نورو وزارتونو ته هم هدایت ورکړل شو چې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې خپل پلانونه د ۲۰۱۶ کال تر پایه بشپړ کړي.۳

د څارنې او ارزونې کمیټې د پنځو عایداتي وزارتونو د پلانونو په ګډون د بیلابیلو وزارتونو له اداري فساد سره د مبارزې پلانونه ارزولي دي. د ۲۰۱۸ کال د اپریل تر میاشت پورې، د څارنې او ارزونې کمیټې د نهو وزارتونو له اداري فساد سره د مبارزې د پلانونو بیا کتنه او ارزونه بشپړه کړې وه. ددې راپور په ترڅ کې د څارنې او ارزونې کمیټې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پلان ارزولی دی.

د افغانستان حکومت د یوه وزارت په توګه، د کرنې وزارت مسوولیت لري چې د محصولاتو د ډیروالي، په کلیو او بانډو کې د کرنېزو زیربناوو او اوبولګولو سیستمونو د رغولو او په هیواد کې د کرنیز مارکیټ پراخولو له لارې د افغانستان مشروع کرنیز اقتصاد ته وده ورکړي.٤

د کرنې وزارت ولایتي ریاستونه د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې فعالیت کوي.٥ د کرنې وزارت نوی تشکیل[٦] ( چې د یاد وزارت د ټولو کارکونکو د موقف او سطحو په اړه معلومات وړاندې کوي) ښیي چې د یاد وزارت په اداره کې، درې معینان او ۴۲ ریاستونه او په ولایتونو کې ۳۴ ریاستونه، د ښاغلي وزیر تر مشرۍ لاندې فعالیت کوي.۷ سر بیره پر دې، د داخلي تفتیش ریاست د مسوولینو په وینا د هیواد د کرنې سکتور د ودې او پرمختک په موخه، ۵ ملي او سیمه ایز پروګرامونه او همدارنګه ۲۲ پروژې په جلا توګه د یاد وزارت تر کاري چوکاټ لاندې فعالیت کوي.

د کرنې وزارت د تشکیل له مخې، په یاد وزارت کې ۸۳۸۶ دایمي کارکونکي کار کوي.۸ سر بیره پر دې، ځیني قراردادیان هم شته چې په ملي او محلي پروګرامونو او پروژو کې په کار بوخت دي.

د کرنیز اقتصاد د ودې او پرمختک په تړاو خپل ماموریت ته د رسیدو په موخه، د کرنې وزارت اداري فساد سره مبارزې ته ژمن دی. له اداري فساد سره د مبارزې د دې پلان تدوین او پلي کول، د اداري فساد په وړاندې د یاد وزارت د هلو ځلو یوه برخه ګڼل کیږي.

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان ۳ موخې لري۹:

۱. د بریښنایی حکومتولۍ له لارې د داخلي کنټرول او څار سیستمونو پیاوړتیا
۲. د کرنې وزارت د ملکیتونو په تړاو د شته ستونزو لمنځه وړل
۳. د داخلي تفتیش د خدمتونو د معیاري کولو له لارې د داخلي کنټرول میکانیزمونو پیاوړي کول.

۳ افغانستان اسلامي جمهوریت، د SMAF ، ضمیمه: لنډ مهاله ژمنې تر ۲۰۱۶، او د ۲۰۱۷ کال تر جنورۍ میاشت پورې.http://www.mofa.go.jp/mofaj/files/٠٠١٠٢٢٥٤.pdf :
٤ http://mail.gov.af last seen March ١٧th, ٢٠١٨ , وګورئ
٥ http://mail.gov.af last seen March ١٧th, ٢٠١٨ , وګورئ
٦کرهنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت، د تشکیل چارټ، لومړی مخ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۶ مه
٦کرهنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت، د تشکیل چارټ، لومړی مخ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۶ مه
۷کرهنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت، د تشکیل چارټ، لومړی مخ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۶ مه
۸کرهنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت، د تشکیل چارټ، لومړی مخ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۶ مه
۹ د ۲۰۱۷ کال لپاره د کرهنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان

# میتودولوژي

د څارنې او ارزونې کمیټې د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان بیا کتنه د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ میاشت په وروستیو کې پیل او د معلوماتو راټولولو لړۍ یې د یاد کال په مارچ میاشت کې بشپړه کړه. د یادې بیا کتنې اصلي موخه دا وه چې وکتل شي آیا د یاد وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان په کرنې وزارت کې د اداري فساد په وړاندې ټولو زیانمننو ته رسیدنه کوي، او دا چې یاد پلان د نوموړي وزارت د ټولو ریاستونو له خوا په سمه توګه پلي کیږي او که نه.

زموږ د موندنو پر بنسټ، په اوسني بیا کتنه کې د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د لا ښه والي په موخه ځیني سپارښتنې شاملې شوي دي.

د پلي کیدو لړۍ د ارزونې په موخه، د څارنې او ارزونې کمیټې د کرنې وزارت د پالیسیو، کړنلارو او اړوند اسنادو د تحلیل او شننې ترڅنګ، ثانوي څیړنې او د یاد وزارت له مسوولینو او چارواکو سره یو شمیر مرکې هم ترسره کړې دي. همداراز، د څارنې او ارزونې کمیټې د یاد وزارت له مسوولینو او چارواکو څخه د اړینو معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه له یادو مسوولینو سره ځیني تعقیبي ناستې هم ترسره کړې دي.

په ټوله کې، د څارنې او ارزونې کمیټې د نوموړي وزارت له ۲۵ لوړ پوړو او منځنۍ کچې مسوولینو او چارواکو سره مرکې ترسره کړې.

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان څخه د څارنې او ازونې کمیټې بیا کتنه په لاندې دریو پړاونو تمرکز کوي:

### ۱- د تدوین پړاو:

دا پړاو له اداري فساد سره د مبارزې پلان د پلان جوړونې او تدوین ټول پړاونه تر پوښښ لاندې نیسي.

### ۲- د پلي کیدو پړاو:

دا پړاو له اداري فساد سره د مبارزې پلان د لومړیتوب د هرې ساحې لپاره د ټاکل شویو فعالیتونو پلي کیدل تر پوښښ لاندې نیسي.

### ۳- د څارنې او ارزونې پړاو:

دا پړاو په دې تمرکز کوي چې آیا د کرنې وزارت خپل له اداري فساد سره مبارزې پلان په هراړخیزه توګه تعقیب کړی دی او که نه؟

## ۱. د تدوین پړاو

له اداري فساد سره د مبارزې پلان د تدوین په موخه، د کرنې وزارت لومړی خپل ټول اړوند ریاستونو ته دنده وسپارله ترڅو له اداري فساد سره د مبارزې خپل انفرادي پلانونه چمتو کړي. په دوهم پړاو کې، د یاد وزارت د اړوندو ریاستونو د انفرادي پلانونو د توحید او تنظیم په موخه یوه کمیټه وګمارل شوه ترڅو یاد انفرادي پلانونه د وزارت په کچه له اداري فساد سره د مبارزې په یوه هراړخیز پلان بدل کړي. یاده چاره د نوموړي وزارت د مالي او اداري معین په مشرۍ او د څارنې او ارزونې ریاست، د داخلي تفتیش ریاست او پالیسي او پلان جوړونې ریاستونو په همکارۍ او ګډون، سرته ورسید.

اړوند ریاستونو ته دنده ورسپارل شوې وه چې په خپلو ریاستونو کې د کاري تجربو پر بنسټ، هغه برخې تشخیص کړي چې د اداري فساد په وړاندې زیانمننونکې دي او له اداري فساد سره د مبارزې داسې یو پلان جوړ کړي چې د اداري فساد په وړاندې ټولې زیانمننوکې برخې تر پوښښ لاندې ونیسي.

په پای کې، داسې یو پلان چمتو شي چې ۳ موخې او ۱۳ فعالیتونه لري.

د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي چې په یاده برخه کې د کرنې وزارت له خوا ګمارل شوې کمیټې له اداري فساد سره د مبارزې پلان د تدوین مخکې، د احتمالي خطرونو هیڅ ډول ارزونه نه ده ترسره کړې.[۱۰] د خطرونو د داسې یوې ارزونې نه ترسره کول، ددې لامل شوی چې په پلان کې ځینو زیانمننونکو برخو ته په یو اړخیز او ذهني توګه لومړیتوب ورکړل شي. همداراز، د څارنې او ارزونې کمیټه دا مني چې ښایي د کرنې په وزارت کې داسې نورې تشې او زیانمننې به هم موجودې وي چې په رسمي توګه تشخیص او په ګوته شوي نه دي.

له بله پلوه، هغه مثبت ټکی چې باید ورته اشاره وشي دا دی چې د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې بشپړ او وروستی پلان له هغو ریاستونو او ادارو سره شریک کړی چې فعالیتونه یې په یاد پلان کې شامل شوي وو. سر بیره پر دې، ددې لپاره چې یاد پلان ته ټول یو شان لاس رسی ولري، د کرنې وزارت نوموړي پلان په خپل ویب پاڼه کې خپور کړی دی.

---

۱۰د کرهنې وزارت مسوولین، د څارنې او ارزونې کمیټې سره مرکه، د کرهنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، کابل، افغانستان، د ۱۳۹۶ کال د کب نهمه

خو د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان عمومي جوړښت ځيني نيمګړتياوې لري.

- په ياد پلان کې تسجيل شوي فعاليتونه د " SMART " شاخصونو سره سم نه دي ټاکل شوي ترڅو د پلي کيدو لړۍ يې په سمه توګه تعقيب شي. د " SMART " شاخصونه له دې داږ ترلاسه کوي چې موخې او اجراات مشخص، د اندازې وړ، د لاسته راوړلو وړ، نتيجه محوره او پر وخت دي.[11]
- د لومړۍ موخې څلورم فعاليت، " د هرې پلي شوې پروژې لپاره د جي پي اس(GPS) موقعيتونو تشيخصول" هيڅ ډول شاخص نه لري.
- د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې په پلان کې څلور فعاليتونه د لومړنې وضعيت(baseline) له ارزونې پرته ټاکل شوي دي.

# ۲. د پلي کيدو پړاو

د څارنې او ارزونې کميټې د موندنو پر بنسټ، له ۱۳ فعاليتونو څخه ۲ فعاليته په بشپړه توګه پلي شوي دي، ۸ فعاليته د "SMART" شاخص نه لري نو ځکه د پلي کيدو کچه يې په کره توګه د سنجش او اندازې وړ نه ده، ۲ فعاليته نه دي پلي شوي، او پاتې يو فعاليت واردمخه دوه کاله مخکې پلي شوی دی. د څارنې او ارزونې کميټې د اړوندو واحدونو او ادارو سره د مرکو له لارې، د ياد پلان هر فعاليت ارزولی دی. د يادې ارزونې موندنې په لاندې ډول دي:

## لومړی فعاليت. د برېښنايي حکومتولی له لارې د داخلي کنټرول او څار سيستمونو پياوړتيا

### لومړی فعاليت

| شميره | فعاليت | شاخص | مهال ويش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ام پلز(M-Pulse) ډيتابيس له لارې د کرنې وزارت د شتمنيو مديريت | د شتمنيو شمير چې په سيستم کې ثبت شوي | د ۲۰۱۷ کال جنوري- ديسمبر |

### موندنې:

د کرنې وزارت د لسيزو راهيسې د شتمنيو د ثبت او سجل لپاره د دوديز لاسي سيستم څخه کار اخلې. د ياد وزارت کارکونکي راپور ورکوي چې د شتمنيو د ثبت لاسي سيستم پيچلی او وختګيره دی. له دې امله چې د شتمنيو او اجناسو رياست د وزارت د ټولو شتمنيو اجناسو سوابق او اسناد په لاسي بڼه ثبتوي، نو ځکه د دې برخې کارکونکو لپاره دا ډيره ستونزمنه ده چې د ټولو شتمنو او اجناسو سوابق او معلومات په اغيزمنه توګه تعقيب کړي. د ياد وزارت کارکونکي وايي چې د شتمنيو او اجناسو د يوه راپور جوړول، ورځې ( او آن اونۍ) وخت نيسي، ځکه چې د دې کار لپاره دوي اړ دي چې د شتمنيو ټول په لاس ليکل شوي سوابق او اسناد ولټوي. د داسې يو راپور جوړول چې د شتمنيو او اجناسو د شمير، موقعيت او وضعيت په اړه معلومات وړاندې کړي او دا وښيي چې چا ته سپارل شوې دي او څوک يې کاروي، ډير ستونزمن او وختګيره کار دی.



د کرنې وزارت دا انځور د ۱۳۹۷ کال د غبرګولې د اتمې نيټې راپور په هکله د نظرونو د وړاندې کولو پر مهال وړاندې کړ.

د دې لپاره چې د کرنې وزارت شتمنۍ او اجناس په سمه توګه مديريت شي او په دې برخه کې د درغليو، ضايعاتو او د غلا خطر مخه ونيول شي، د کرنې وزارت مديره پلاوي دا وپتيله چې د شتمنيو او اجناسو د ثبت اوسنی لاسي سيستم په ام پلز(M-Pulse) معياري برېښنايي ډيتابيس سيستم، بدل کړي. دې کار د بيوروکراسي او اداري کاغذ پرانۍ په کمولو، د روڼتيا او اغيزمنتيا په زياتوالو او همدارنګه د کرنې وزارت د شتمنيو او اجناسو د ثبت د مديريت په بڼه والي کې پوره مرسته کړې ده. کرنې وزارت د شتمنيو د ثبت

---

[11] SMART شاخصونو په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندې لينک ته مراجعه وکړئ:-https://www.linkedin.com/pulse/۲۰۱٤۱۰۲۲۰۷۱۸۰۳-۱۸۹۲۷۸۱٤-a-good-start-with-s-m-a-r-t-indicators

دیتابیس(M-Pulse) د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د ظرفیت جوړونې او د بدلون د مدیریت پروګرام(CBCMP) له خوا اخیستل شوی دی.[12] ام پلز(M-Pulse) یو کمپیوټري پرمختللی سیستم دی چې د یوې ادارې د ملموسو او ثابتو شتمنیو د فعالیت، حفظ او ساتنې، پرمختګ، پراختیا او استهلاک څخه د څارنې په موخه طرحه شوی دی.۱۳

د کرنې وزارت اوس هم د ام پلز(M-Pulse) سیستم پر مټ، د شتمنیو د جزئیاتو، پرله پسې شمیرو، ټګ نمبر، او وروستي کارونکو د جزئیاتو، کره موقعیت، د شتمنۍ د تدارک نیټې، د صدور نیټې او د شتمنۍ د بیې د ثبتولو په لومړي پړاو کې دي. وروسته له دې نه چې د ټولو ملموسو او ثابتو شتمنیو د ثبت لړۍ بشپړه شوه، د شتمنۍ څخه د ګټې اخیستنې، حفظ او ساتنې، پرمختګ او استهلاک په اړه اړین معلومات په سیستم کې ثبتیږي.

د داسې یو سیستم رامنځته کول د کرنې وزارت د شتمنیو او اجناسو د ښه مدیریت په برخه کې یو ښه ګام بلل کیږي. په لاس باندې د شتمنیو د ثبت لړۍ په پرتله د یاد سیستم اغیزمنتیا ډیره ده. د یاد سیستم په کارولو سره د شتمنیو د ثبت په برخه کې د تیروتنو او د شتمنیو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې چانس ډیر کم دی. لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، یاد سیستم تر اوسه د پلي کولو په لومړي پړاو کې دی، له دې امله اوس ډیره ستونزمنه ده چې د شتمنیو د مدیریت په ښوالي باندې د یاد سیستم اغیزه وارزول شي. خو بیا هم، د یاد سستم روڼوالی او سرعت، د کرنې وزارت په ودانیو، ګدامونو او د وروستي ګټه اخیستونکو سره د موجودو شتمنیو په اړه، اغیزمنه راپور ورکونه شونې کوي. د ۲۰۱۷ کال تر پایه، په ام پلز(M-Pulse) سیستم کې د کرنې وزارت د ثبت شویو شتمینو او اجناسو ټول ټال شمیر۲۱۴۰۰ اقلامو ته رسیده.١٤ له بده مرغه، د کرنې وزارت د هیواد په کچه د یاد وزارت د شتمنیو د شمیر په اړه کره معلومات نه لري.

د دې فعالیت شاخص دSMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی، نو ځکه د څارنې او ارزونې کمیټه د یاد فعالیت د پلي کیدو کره کچه نه شي اندازه کولی.

### دوهم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۲ | د نقلیه وسایطو د تعقیب سیستم/ د ټرانسپورت د مدیریت سیستم طرحه او پلي کول | د سیستم په اړه راپورونه | د ۲۰۱۷ کال جنوري- دیسمبر |

### موندنې:

د تیلو د لګښت څخه د څارنې او ضایعاتو څخه د مخنیوي په موخه، د کرنې وزارت د نقلیه وسایطو د څار او تعقیب یو انټرنټي سیستم جوړ کړی دی. یاد سیستم د وهل شوي واټن له مخې د نقلیه وسایطو د تیلو لګښت محاسبه کوي. له دې امله د نقلیه وسایطو چلونکي او دولتي چارواکي د شخصي موخو لپاره د وزارت وسایط نشي کارولی ځکه چې څه ناڅه په کابل کې د نقلیه وسایطو د ټګ راټګ د سیستم له خوا ثبتیږي.۱۵ په ۲۰۱۷ کال کې، د کرنې وزارت په مرکز کې د خپلو ۱۸۳ موټرو د ټګ راټګ لړۍ تعقیب او څارلې ده، په داسې حال کې چې د کرنې وزارت په ولایاتو کې ۱۵۰ مسافر وړونکي موټر لري چې لا تر اوسه په یاد سستم کې ثبت شوي نه دي.١٦ د نقلیه وسایطو د تعقیب او څار په پایله کې، د تیلو په لګښت کې ۶.۳۴ سلنه سپما شوې ده.۱۷

د نقلیه وسایطو د تعقیب او څار سیستم په ۲۰۱۶ کال کې د ظرفیت جوړونې او بدلون د مدیریت پروګرام(CBCMP) له خوا جوړ شو. د ۲۰۱۶ کال راهیسې، د کرنې وزارت د جي پي اس(GPS) له لارې د خپلو وسایطو ټګ راټګ د کنټرول لپاره، یاد سیستم کاروي.۱۸ نوموړی سیستم د نقلیه وسایطو ټګ راټګ د هغو د مشخصاتو، د حرکت وخت او مسیر سره یوځای، ثبتوي. کله چې یوه نقلیه واسطه حرکت کوي، یاد ټول موارد په اتوماتیک ډول په سیستم کې ثبت او په حافظه کې یې حفظ کیږي. مسوول آمر، یاد سیستم د معلوماتو د لیدلو او د راپور د جوړولو په موخه په آسانۍ سره پرانیستلی شي.

---

۱۲د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال کب دویشتمه، کابل- افغانستان.

۱۳د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال کب دویشتمه، کابل- افغانستان.

١٤ ۸ دکرنې وزارت، داخلي اسناد: د هغو شتمنیو نوم لړ چې د ایم پلز سیستم په دیتابیس کې په ۲۰۱۷ او د ۲۰۱۸ کال په مارچ کې ثبت شوي دی.

۱۵د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او رازونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۷ کال د کب اتمه


١٦د کرنې وزارت داخلي اسناد: په مرکز او ولایاتو کې د یاد وزارت د نقلیه وسایطو نوم لړ.۲۰۱۸، د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ دیرشمه

۱۷د کرنې وزارت داخلي اسناد: په ۱۳۹۵ او ۱۳۹۶ کلونو کې د پټرولو د لګښت سلنه، د ۱۳۹۷ کال د کب اتمه

۱۸ Ibidاورته مورد

خو بیا هم، لکه څرنګه چې یادونه وشوه، د یاد فعالیت شاخص د SMART معیار سره سم نه دی چمتو شوی. د کرنې وزارت د ۱۳۹۴څخه تر ۱۳۹۶ کال پورې د تیلو د لګښت پرتلیز جدولونه وړاندې کړي دي:

| Year<br>کال | Annual fuel consumption<br>د تیلو کلنی لګښت | Annual reduction of fuel consumption<br>د تیلو په لګښت کې کلنی کمښت | Percentage of annual reduction in fuel consumption<br>د تیلو په لګښت کې د کلني کمښت سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹٤ | ۲۹٦٦۹۰ | ۰ | |
| ۱۳۹٥ | ۲٥٤٥۳٤ | ٤۲۱٥٦ | %۱٦.٥٦ |
| ۱۳۹٦ | ۲۰۸٥٥۲ | ۸۸۱۳۸ | %۳٤.٦۲ |
| ټول ټال | ۷٥۹۷۷٦ | ۱۳۰۲۹٤ | |




### دریم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۳ | د تدارکاتو د کنټرول سیستم/ د تدارکاتو د مدیریت سیستم طرحه او پلې کول | د هغو تدارکاتو شمیر او پایلې چې د دې سیستم له لارې طی مراحل شوی | د ۲۰۱۷ کال جنوري- دیسمبر |

### موندنې:

د تدارکاتو د مدیریت سیستم(PMS) یو پرمختللی الکترونیکي سیستم دی چې د تدارکاتو پروسې ساده او آسانوي او د دوامداره څارنې او کنټرول لپاره زمینه برابروي. د تدارکاتو د مدیریت سیستم په ۲۰۱۷ کال کې رامنځته شو او د تدارکاتو ریاست په ۲۰۱۸ کال کې د یاد سیستم کارول او په سستم کې د معلوماتو درجول پیل کړل.۱۹ د تدارکاتو د د مدیریت سیستم د تدارکاتو د پروسو د لاسي ثبت او تعقیب څخه ډېره کولو په موخه کارول کیږي. یاد سیستم د تدارکاتو د پروسې ټول پړاونه، د داوطلبی څخه مخکې پړاو، د داوطلبۍ پړاو او د قرارداد د ورکړې پړاو، تر پوښښ لاندې نیسي. د تدارکاتو د مدیریت سیستم د پروسې د هر پړاو د بشپړیدو د شواهدو په توګه د ټولو اړینو اسنادو کمپیوټري بڼه، غواړي. همداراز، نوموړی سستم کارونکو ته ددې فرصت ورکوي چې د انځورونو، چارټونو او شمیرو په مرسته خپل راپورونه چمتو کړي. همدارنګه یاد سیستم کارونکي ته خبر ورکوي چې ټاکلی وخت او نیټه څه وخت رارسیږي. لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، د یاد سیستم اصلي موخه د تدارکاتي پروسو اغیزمن او ساده کول دي.

---

۱۹د کرنې وزارت سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب لومړۍ نیټه- کابل، افغانستان

په لومړيو کې، ټاکل شوې وه چې د تدارکاتو د مدیریت سستم په ۲۰۱۷ کال کې طرحه او پلي شي، خو ياد سیستم په ۲۰۱۸ کال کې په کرنې وزارت کې پلي شو. د یاد فعالیت شاخص دSMART معیارونو سره سم نه دی چمتو شوی نو ځکه د څارنې او ارزونې کمیټه د یاد فعالیت د پلي کیدو پرمختګ نشي اندازه کولی.

### څلورم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۴ | د هرې پلي شوې پروژې لپاره د جي پي اس(GPS) موقعیتونو تشیخصول او د جي آی اس(GIS) یا څارنیز راپورونو له لارې د پروژو کنټرول | | د ۲۰۱۷ کال<br>جنوري- دیسمبر |

**موندنې**:

د پلی شویو پروژو د فزیکي موقعیت د تایید او ښې څارنې په موخه، د کرنې وزارت ځینې پروژې د موقعیت موندنې د نړیوال سیستم(GPS) پر مټ تعقیب او ردیابي شوي دي. په ۲۰۱۷ کال کې، په کرنې وزارت کې د ۲۲ فعاله او فهرست شویو پروژو څخه، یوازې ۳ پروژو د خپلو پروژو د پلي کیدو موقعیت په اړه د جي پي اس موقعیتونه تشخیص کړي دي. په یادو دریو پروژو کې د افغانستان د کرنیزو تولیدي عواملو پروژه(AAIP)، د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژه(NHLP) او په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژه(OFWMP)، شاملې دي.۲۰ د جي پي اس سیستم، د پروژې کره جغرافیایی موقعیت( جغرافیایي طول او عرض) او د پروژې له خوا نیول شوې سیمه، تر پوښښ لاندې نیسي. له کومه ځایه چې ټولې پلي شوې پروژې په امنو سیمو کې موقعیت نه لري، یادې درې پروژې(AAIP، NHLP او OFWM) هم یوازې د پروژې د هغو سایټونو په هکله معلوماتو وړاندې کړي چې په امنو سیمو کې موقعیت لري.

په ۲۰۱۷ کال کې، د افغانستان د کرنیزو تولیدي عواملو پروژې(AAIP) په ټول هیواد کې د ۲۴ بنونو او کروندو لپاره د جي پي اس موقعیتونه تشخیص کړل.۲۱ په ۲۰۱۷ کال کې د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې(NHLP) په ټول هیواد کې۱۶۶ کروندې، کرنیزې ځمکې، ګلخونې او شنې خونې، تشخیص کړې دي.۲۲

په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژه(OFWMP) په پام کې لري چې د اوبولګولو د اغیزمنتیا د لوړولو له لارې، کرنیزو تولیداتو ته وده ورکړي. ۲۳ یادې پروژې د جي پي اس سیستم پر مټ، د اوبولګولو د ۵۴ کانالونو طول په ۲۰۱۷ کال کې تشخیص کړی دی.۲٤ یادې پروژې د دوو نورو پروژو په خلاف، په هیواد کې د ابولګولو د کانالونو له وضعیت څخه د څارنې په موخه د جغرافیایي معلوماتو سیستم(GIS) څخه کار اخلي. د دې سیستم راټول شوي معلومات، له سیمه ایزو سروې کونکو سره شریکیږي ترڅو د سیمه ایزو کانالونو د مشاهدو او لیدنو څخه ترلاسه شویو معلوماتو سره یې پرتله کړي. وروسته بیا دغه معلومات په کابل کې د کرنې وزارت د جغرافیایي معلوماتو سیستم له واحد سره، شریکیږي. یاد واحد ترلاسه شوي معلوماتو د شننې وروسته یوه هراړخیزه نقشه جوړوي. سیمه ایز سروې کونکي د پروژو د پلي کیدو لړۍ څاري او د څارنې او ارزونې په برخه کې خپلو همکاراتو او د جغرافیایي معلوماتو سیستم واحد ته په دې برخه کې وروستي معلومات وړاندې کوي. د څارنې او ارزونې واحد اړوند راپورونه په لیکلې بڼه چمتو کوي او د جغرافیایي معلوماتو سیستم واحد هم راپورونه د نقشو په بڼه وړاندې کوي.۲۵

له بدغه مرغه، د کرنې وزارت د اوبولګولو د هغو کانالونو د شمیر په اړه چې په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې(OFWMP) له خوا یې نقشې اخیستل شوي دي، معلومات ندې وړاندې کړي. یاد فعالیت نه کوم څرګند شاخص لري چې پر مټ یې د پلي کیدو کچه یې اندازه شي او نه هم د پروژو کره شمیر ته اشاره شوې ده. د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو له خولې، د نا امنیو له کبله، دوي په دې نه دې توانیدلي چې د ځینو پروژو لپاره د جي پي اس موقعیتونه وټاکي. له دې امله، د یاد فعالیت د پلي کیدو پرمختګ نشي مشخص کیدی.

---

۲۰ د NHLP ، AAIP او OFWMP له استازو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه د مارچ لیسمه، پنځلسمه او شلمه نیټه، کابل، افغانستان.

۲۱د کرنې وزارت داخلي اسناد، په ۲۰۱۷ کال کې د جي پي اس تشخیص شوی موقعیتونه د ۱۳۹۶ کال د کب دویشتمه.

۲۲د کرنې وزارت داخلي اسناد، په ۲۰۱۷ کال کې د جي پي اس تشخیص شوی موقعیتونه د ۱۳۹۶ کال د کب څلورویشتمه.

۲۳دې لنک ته رجوع وشي:http://projects.worldbank.org/P۱۲۰۳۹۸/on-farm-water-management-ofwm?lang=en, last seen February ۳, ۲۰۱۸

۲٤د کرنې وزارت، داخلي اسناد، د جي پي اس هغه موقعیتونه چېOFWMP له خوا مشخص شوي دي، د ۱۳۹۶ کال د کب څلورویشتمه.

۲۵د کرنې وزارت له مسوولینو او چارواکو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب دولسمه.

### پنځم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۵ | د ښاغلي وزیر په دفتر کې د اسنادو او عریضو د کنترول سیستم طرحه او پلي کول. | د یاد سیستم له لارې یو شمیر اسناد او عریضې طي مراحل شوي دي. | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

لکه نور انترنټي سیستمونه، د اسنادو د مدیریت سیستم هم د انترنټ له لارې د وزارت د چارو د ساده کولو، د مقرراتو د تسهیلولو او ثبتولو، او همدارنګه د یاد وزارت ته د سپارل شویو عریضو د وضعیت د تعقیب په موخه رامنځته شوی دی. یاد سیستم د وزارت د دودیزو او لاسي اداري چارو د مدیریت میتود، ځاي نیسي.[۲۶] د کرنې وزارت د اسنادو د مدیریت سیستم په کرونده کې د اوبو د تنظیم پروژې د MIS وحد له خوا د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې په ځانګړي توګه د ښاغلي وزیر د دفتر لپاره طرحه شوی دی.[۲۷] نوموړی سیستم په یادو دریو برخو کې د معلوماتو د ثبت او همدارنګه د اړتیا په وخت کې د تعقیب او ځواب ورکونې په موخه رامنځته شوی دی. د یاد سیستم د رامنځته کیدو وروسته، د وزارت د مقام کارکونکو ته د نوموړي سیستم دکارولو په برخه کې، روزنه ورکړل شوه.[۲۸] همدارنګه، په دې وروستیو کې په ۲۰۱۸ کال کې د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست یو سرور( له ۱۲ کمپیوټرونو سره) د اسنادو د مدیریت لپاره چمتو کړی ترڅو د وزارت عملیاتي ظرفیت لوړ شي.[۲۹] له دې امله چې د اسنادو د مدیریت سیستم تر اوسه نه ده فعال شوی، نو د څارنې او ارزونې کمیته نشي کولی د یاد سیستم اغیزه وارزوي.

### شپږم فعالت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ٦ | د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست لپاره د آي ټي مرستو طرحه او پلي کول. | د هغو خدمتونو شمیر چې د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست له خوا د کرنې وزارت بیلابیلو واحدونو ته وړاندې شوي دي. | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

د آي ټي د مرستو سیستم(ITHD) یو انټرنټي سیستم دی چې د کرنې په وزارت کې د معلوماتي تکنالوژۍ(IT) شکایتونو او تخنیکي ستونزو ته د ښې رسیدنې په موخه رامنځته شوی دی. د آي ټي د مرستو سیستم(ITHD) د وزارت کارکونکي هڅوي چې سیستم ته داخل شي او خپل ستونزې او شکایات ثبت کړي. د آي ټي د مرستو سیستم مسوول هر وخت کولای شي د کارکونکو له خوا د ثبت شویو ستونزو او شکایتونو د تحلیل او ارزونې په موخه سیستم ته داخل شي او بیا یادې ستونزې او شکایات د اړوندو ریاستونو کارکونکو ته راجع کړي. د آي ټي د مرستو سیستم په ۲۰۱۷ کال کې د کرنې وزارت د معلوماتو د مدیریت سیستم(MIS) واحد له خوا د بیروکراسي او اداري کاغذ پرانۍ د کمولو په موخه رامنځته شوی دی، خو تر اوسه د تخنیکي ستونزو له امله فعاله شوی نه دی.۳۰ د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست د ۲۰۱۸ کال تر مارچ میاشتې، تخنیکي ستونزې په لاسي بڼه ثبت او په اکسل پاڼه کې درجوي. دم ګړی، د کرنې وزارت د تخنیکي ستونزو د ترلاسه کولو په موخه د اړیکو یوه شمیره فعاله کړې چې کارکونکي یې د خپلو شکایاتو د سپارلو په موخه کاروي.۳۱

د یاد فعالیت شاخص د SMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی چې دا موضوع د پلي کیدو لړۍ څخه د څارنې مخه نیسي.

### اووم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۷ | د بزګرو د اړیکو د یوه مرکز جوړول او د غړیزو او د لنډو پیغامونو د خدمتونو(SMS) څخه ګټه اخیستل | د بزګرو سره د تلیفوني اړیکو او د ورکړل شویو مشورو شمیر | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

په ۲۰۱۷ کال کې د کرنې وزارت، د بزګرو د اړیکو مرکز(FCC) جوړ کړ. د یاد مرکز د جوړیدو اصلي موخه دا وه چې بزګر وکولای شي نیغ په نیغه د کرنې له وزارت سره اړیکه ونیسي او له مسوولینو او چارواکو سره خپلې ستونزې او شکایتونه شریک کړي. یاد مرکز اوس جوړ شوی دی او د فرنیچر، کمپیوټر، دیتابیس او د کمپیوټري پروګرامونو په

---

۲٦د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب دویشتمه – کابل، افغانستان.
۲۷د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب یویشتمه – کابل، افغانستان.
۲۸ د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب یویشتمه – کابل، افغانستان.
۲۹د څارنې او ارزونې کمیټې سره د کرنې وزارت د مسوولینو او چارواکو مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب یویشتمه – کابل، افغانستان.
۳۰د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او رازونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب نهمه.
۳۱ د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او رازونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب نهمه.

کېدون، له ټولو متوقعه آسانتیاو څخه برخمن دی. د کرنې وزارت د یاد مرکز د فعالولو په موخه یو شمیر کارکونکي هم په کار ګمارلي دي. د یاد مرکز کارکونکي واک او صلاحیت لري چې د بزګرو ټلیفوني اړیکې واخلي، غوښتل شوي معلوماتو بزګرو ته ورکړي یا ټلیفون کونکی اړوند ریاست ته ارجاع کړي. همدارنګه د اړیکو مرکز کولای شي په ټول هیواد کې بزګرو ته لنډ پیغامونه(SMS) واستوي. خو د اړیکو د یاد مرکز کارکونکي د یاد فعالیت د ترسره کولو په موخه، د مخابراتو له وزارت څخه د یوه ډیجیټلي کوډ ترلاسه کولو ته اړتیا لري.

### اتم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۸ | له ۷ کرنیزو زونونو او په بادام باغ او دارالامان کې له دوو ثانوي مرکزونه سره د یاد مرکز د اړیکو د ټینګښت په موخه د سیستکو یا VoIP ټلیفونونو فعالول. | راپور ښیي چې یو د سیسکو ویډیویي ټلیفون او نهه غیر ویډیویي ټلیفونونه نصب شوي دي. | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

په کرنې وزارت کې د کاري لړۍ د سمون او له ولایتي ریاستونو سره د اړیکو د ښه والي په موخه، د یاد وزارت د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست په وزارت او دوو ولایتي ریاستونو( هرات او ننګرهار او په کابل کې د بادام باغ او دارالامان څانګو) کې د سیسکو ویډیویي او غیر ویډیویي ټلیفونونه نصب کړي دي.۳۲ د کرنې وزارت په پیل کې په پام کې نیولې وه چې تر ۲۰۱۷ کال پورې د یادو ټلیفونونو د پوښښ لمنه نورو څلورو ولایتي ریاستونو( بلخ، پکتیا، کندهار او کندز) ته وغځوي. خو یاد پلان د امنیتي دلایلو په کېدون د بیلابیلو لاملونو له کبله وځنډول شو.۳۳

### نهم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۹ | د کرنې په اړه د کتابونو او معلوماتو د ویشلو په موخه د انټرنټ او موبال اپلیکیشنونو له لارې د دجیټل یا الکترونیکي کتابخونو رامنځته کول. | رامځته شوې کتابخونې او پایلې | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

په کرنې وزارت کې د کرنیزې پوهې د خپراوي او د پوهې د شریکولو د فرهنګ د راژوندي کولو په موخه، د کرنې وزارت یوه ډیجیټلي کتابخونه جوړه کړې ده. یاده ډیجیټلي کتابخونه هم د موبایل اپلیکیشنونو او هم د "MAIL Digital Library "(MDL ) په نامه آنلاین سافټویر له لارې د لاس رسي وړ ده. په MDL آنلاین سافټویر کې د بیلابیلو سرچینو ډیجیټلي کتابونه هم پیدا کیږي. د یادونې وړ ده چې د کرنې وزارت یوه فزیکي کتابخونه هم لري. پهMDL آنلاین سافټویر کې یوه برخه شته چې په فزیکي کتابخونه کې موجود کتابونو په اړه هم معلومات وړاندې کوي. د کرنې وزارت د ډیجیټلي کتابخونې د رامنځته کولو چارې په ۲۰۱۷ کال کې پیل او په ۲۰۱۸ کال کې پای ته ورسولې.۳٤

د یاد فعالیت شاخص د SMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی چې دا موضوع د پلي کیدو لړۍ څخه د څارنې مخه نیسي.

### لسم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | په غږیز، پي ډي اف(PDF) او پاور پاینټ بڼه د جزوو، مجلو، بروشرونو له لارې د کرنیزې پوهې د بانک رامنځته کول. | یو شمیر حمایوي اسناد چې د تاسیس شویو سرچینو شمیر ښیي. | جنوري- دیسمبر ۲۰۱۷ |

د کرنیزې پوهې بانک د تاسیس مفکوره په ۲۰۱۵ کال کې وړاندې شوه. خو د کرنې وزارت د ۲۰۱۷ کال تر پایه په یادې برخې کې د اړین سافټویر د رانیولو لپاره د سرچینو د نه شتون له کبله د یاد بانک په رامنځته کولو بریالی نه شو.۳۵ په ۲۰۱۸ کال کې، یوه غوره شرکت ته د کرنیزې پوهې د بانک د تاسیس قرارداد او د اړوند سافټویر د اخیستلو په

---

۳۲د آی تي ریاست له خوا ولایتي ریاستونو ته د ټلیفونونو د نصب په اړه لیږل شوي مکتوبونه. ۲۰۶۰۷، ۱۹۲، ۴۴۵

۳۳د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب اومه.

۳٤د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۲۰۱۸ کال مارچ. کابل افغانستان

۳۵ د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۲۰۱۸ کال مارچ. کابل افغانستان

موخه ، د کرنې وزارت د GIZ سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ.۳٦ ویل کیږي چې یاد سافتویر د کرنې په اړه هر ډول معلومات په غږیز، پي ډي اف، ویډیویي او پاور پاینت بڼه حفظ او ذخیره کولی شي.

د یاد فعالیت شاخص د SMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی چې دا موضوع د پلي کیدو لړۍ څخه د څارنې مخه نیسي.

## دوهمه موخه: د کرنې وزارت د ملکیتونو او شتمنیو په اړه د شته ستونزو لمنځه وړل

### لومړی فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جي پي اس له لارې د کرنې وزارت د ثابتو شتمنیو ثبتول او د جي آي اس(GIS) له لارې پرې څارنه | د ثبت د کتابچې او همدارنګه د جي پې اس له لارې د تشخیص شویو شتمنو په اړه معلومات. | جنوری- دیسمبر۲۰۱۷ مکلفیتونه |

### موندنې:

د جي پې اس له لارې په ټولو ولایتونو کې د کرنې وزارت د ملکیتونو او شتمینو یعنې د ځمکو او ودانیو تشخیص او ثبتول یوه ډیره پیچلې او اوږده پروسه ده چې کیدای شي کلونه وخت ونیسي. په ۲۰۱۷ کال کې د کرنې وزارت په موبایل ټلیفونونو کې د موجود جي پی اس په کارولو سره خپل ثابت ملکیتونه او شتمنۍ په دایکندي، کابل، فراه، غور، کاپیسا، هرات، نیمروز، پنجشیر، سرپل او فاریاب ولایتونو کې ثبت او راجستر کړه. ۳۷ د کرنې وزارت مسوولینو او چارواکو یادو ولایتونو ته سفر وکړ او د سیمې د خلکو او ولایتي ریاستونو په همکارۍ سره یې د یاد وزارت شتمنۍ، ځمکې او ودانۍ تشخیص کړې. د کرنې وزارت د اراضۍ او ملکیتونو ریاست په پام کې لري چې په نږدې راتلونکې کې په پاتې ولایتونو کې د یاد وزارت ملکیتونه او شتمنۍ په دوره ای توګه ثبت کړي. ۳۸

د کرنې وزارت د جي پي اس سیستم په کارولو سره د خپلو ملکیتونو او شتمنیو جغرافیایي طول، عرض او نوعیت تشخیص کړی دی. د وزارت د ثبت شویو ملکیتونو او شتمنیو نوم لړ د اراضۍ د خپلواکې اداري سره شریک شوی دی. له بده مرغه، د کرنې وزارت د یاد وزارت له خوا په یادو ولایتونو کې د تشخیص او ثبت شویو ملکیتونو او شتمنیو کره شمیر په اړه معلومات د محرموالي له کبله، د څارنې او ارزونې کمیټې سره شریک نه نکړل.

همدارانګه، د یاد فعالیت شاخص د هغو ملکیتونو( ځمکو او ودانیو) د شمیر په اړه پوره واضح او روښانه نه دی چې یاد وزارت یې په نورو ولایتونو کې د ثبت پلان لري. د کرنې وزارت د ځمکو( او نورو ثابتو او ملموسو شتمنیو) ثبتول د یاد وزارت له اداري فساد سره د مبارزې په پلان کې یو له خورا مهمو موضوګانو څخه ګڼل کیږي.

د دې فعالیت شاخص دSMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی نو ځکه دا کار یاد فعالیت د پلي کیدو له لړۍ څخه څارنه ستونزمنه کړې ده.

### دوهم فعالیت

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۲ | د کرنې وزارت د غصب شویو ملکیتونو د تایید لړۍ بشپړیدل، او د بیا ستنولو په موخه عدلي او قضایي ادارو ته د هغو ارجاع کول. | د غصب شویو ملکیتونو د شمیر نهایي کول او د هغو قضیو تعقیب چې محکمو ته ارجاع شوي دي. | جنوری- دیسمبر ۲۰۱۷ |

### موندنې:

په ۲۰۱۷ کال کې د کرنې وزارت په ټول هیواد کې د غصب شویو ځمکو شاوخوا ۴۰۰ قضیې تشخیص کړي دي.۳۹ د یادو غصب شویو ملکیتونو د ستونولو په موخه، د کرنې وزارت دغه قضیې د دولت د قضایاو عمومي ریاست ته راجع کړي دي.٤۰ خو یاد ریاست تر اوسه پورې په دې برخه کې کوم اقدام نه دی کړی. د څارنې او ارزونې کمیته د غصب شویو ملکیتونو د تشخیص او بیا ستنولو په برخه کې د کرنې وزارت هلې ځلې تاییدوي، خو په دې برخه کې د یادو هڅو د اغیزې په اړه څه نشي ویلی.

د دې فعالیت شاخص دSMART معیارونو سره سم نه دی تدوین شوی نو ځکه دا کار یاد فعالیت د پلي کیدو له لړۍ څخه څارنه ستونزمنه کړې ده.

---

۳٦ د کرنې وزارت له مسوولینو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۲۰۱۸ کال مارچ. کابل افغانستان

۳۷د کرنې وزارت له مسوولینو او چارواکو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹٦ کال د کب یویشتمه.

۳۸ د کرنې وزارت له مسوولینو او چارواکو سره د څارنې او ارزونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹٦ کال د کب یویشتمه.

۳۹د کرنې وزارت داخلي اسناد، د غصب شویو ملکیتونو نوم لړد ۱۳۹٦ کال د کب شپږم ویشتمه

٤۰د کرنې وزارت داخلي اسناد، د غصب شویو ملکیتونو نوم لړد ۱۳۹٦ کال د کب شپږم ویشتمه

**دریمه موخه: د داخلي تفتیش د خدمتونو د معیاري کولو له لارې د داخلي کنټرول میکانیزمونو پیاوړي کول.**

**لومړی فعالیت:**

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د داخلي تصدیق شویو پلټونکو(CIA) له لارې د داخلي پلټونکو د ظرفیت لوړول. | د داخلي پلټونکو له موسسې څخه د تصدیق لیکونو ترلاسه کول. | جنوری- دیسمبر ۲۰۱۷ |

**موندنې:**

" CIA" یو ځانګړی تصدیق لیک دی چې د داخلي پلټونکو د موسسې(IIA) پلټونکو ته ورکول کیږي. د داخلي پلټونکو موسسه، د داخلي پلټنې په برخه کې پلټونکو ته روزنه ورکوي. د امریکا د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې هم په افغانستان کې د کرنې وزارت ۱۱ تنو کارکونکو ته په دې برخه کې یوه نهه میاشتنۍ روزنیزه دوره تمویل کړې ده.۴۱ یادو کارکونکو په ۲۰۱۷ کال کې په دې برخه کې خپلې زدکړې پای ته ورسولې خو په وروستۍ آزموینه کې یې ګډون ونه کړ، نو ځکه د داخلي پلټونکو له موسسې څخه د تصدیق لیکونو په اخیستلو بریالي نشول.۴۲

# د څارنې او ارزونې پړاو

د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د تدوین په موخه یوه ځانګړې کمیټه وټاکل شوه او واک ورکړل شو چې د یاد پلان د پلي کیدو له لړۍ څخه څارنه وکړي او په دې برخه کې بشاغلي وزیر ته راپور ورکړي. له دې کبله، یاده کمیټه د نوموړي پلان د پلي کیدو د لړۍ په اړه د وروستیو شفاهي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره له اړوندو ریاستونو سره منظمه ناستې ترسه کوي. د ۲۰۱۷ کال په دیسمبر میاشت کې یادې کمیټې له اړوندو ریاستونو کتبي راپورونه او حمایوي اسناد راټول کړل. وروسته بیا نوموړې کمیټې یاد راپورونه او اړوند اسناد د عمومي راپور د تدوین لپاره چې په هغه کې د ټولو فعالیتونو وضعیت خلاصه شوی دی، وکارول. یاد سند چې د ۲۰۱۷ کال تر پایه د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د پلي کیدو لړۍ وروستی وضعیت په خلاصه ډول بیانوي، د څارنې او ارزونې کمیټې سره شریک شوی دی.

داسې بریښي چې د کرنې وزارت له خوا ګمارل شوې کمیټه د یاد پلان د پلي کیدو لړۍ څخه په جدیت سره څارنه نه ده کړې، ځکه چې حمایوي اسنادو چې له اداري فساد سره د مبارزې د مندرجو فعالیتونو د پلي کیدو څرګندونه کوي، غوښتنه نه ده کړې.

# پایله

په ټوله کې، له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د کرنې وزارت د ټولو مستندو هڅو سره سره، د یاد وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د زیانمننو او خطرونو د یوې هر اړخیزې ارزونې پر بنسټ نه دی چمتو شوی. نو له دې کبله، دڅارنې او ارزونې کمیټه د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان نیمګړی ګڼي او دا چې یاد پلان د اداري فساد په وړاندې د داخلي انګیرنو پر بنسټ چمتو شوی دی، نو بنایي چې داسې نورې برخې او موضوګانې موجودې وي چې یاد وزارت باید ورته رسیدنه وکړي او د څارنې او ارزونې کمیټه نشي کولای چې تشخیص کړي چې آیا وړاندیز شوي فعالیتونه له ریښتونو خطرونو او زیانمننو سره اړخ لګوي او که نه.

[41] د کرنې وزارت له مسوولینو او چارواکو سره د څارنې او رازونې کمیټې مرکه، د ۱۳۹۶ کال د کب پنځمه
[42] د کرنې وزارت داخلي اسناد، چې په بریالۍ توګه د یاد وزارت د یولسو تنو کارکونکو لپاره د روزنیزه دورې بشپړیدل تاییدوي. د ۱۳۹۶ کال د کب دولسمه

د څارنې او ارزونې کمیته دا مني چې د یاد وزارت له اداري فساد سره د مبارزې اوسنی پلان  په کډه او د بناغلي وزیر په مشرۍ چمتو شوی دی. دا ټکی په دې برخه کې د وزارت د مشرتابه اړین هوډ ځرګندونه کوي چې باید په ۲۰۱۸ کال کې د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې د نوي پلان د تدوین لپاره په واضح او روښانه وظیفوي مسوولیتونو بدل شي.

همدارنګه د څارنې او ارزونې کمیته د پلي کیدو لړۍ څخه د اغیزمنې څارنې او د شاخصونو د تعقیب په موخه غواړي چې د یاد وزارت له اداري فساد سره د مبارزې د نوي پلان ټول فعالیتونه باید د "SMART"  شاخصونو پر بنسټ چمتو شي.

# د څارنې او ارزونې کمیټې سپارښتنې

| شمیره | سپارښتنې | لومړنی وضعیت(Baseline) | وضعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | له اداري فساد سره د مبارزې پلان د تدوین مخکې، د کرنې وزارت باید د اداري فساد د خطرونو یوه رسمي ارزونه وکړي. | د ۱۳۹۷ کال د وري دیارلسمه - د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان د اداري فساد د خطرونو د رسمي ارزونې پر بنسټ نه دي چمتو شوی. | |
| ۲ | د کرنې وزارت باید د خپل راتلونکي پلان لپاره د " SMART" شاخصونه رامنځته کړي. | د ۱۳۹۷ کال د وري دیارلسمه-  له اداري فساد سره د مبارزې په اوسني پلان کې هیڅ یو شاخص د " SMART" معیارونو پر بنسټ نه دی چمتو شوی. | |
| ۳ | د کرنې وزارت باید له اداري فساد سره د مبارزې پلان د ټولو فعالیتونو لپاره لومړنی وضعیت(baseline) په ډاګه کړي. | د ۱۳۹۷ کال د وري دیارلسمه-<br>له اداري فساد سره د مبارزې پلان د ځینو فعالیتونو لومړنی وضعیت نه دی په ډاګه شوی. | |
| ۴ | د کرنې وزارت باید د داسې فعالیتونو سپارښتنه وکړي چې په ځانګړي او مشخصه توګه په وزارت کې له اداري فساد سره په مبارزې تینګار کوي. | د ۱۳۹۷ کال د وري دیارلسمه-<br>د کرنې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې په پلان کې ځینې داسې فعالیتونه شته چې په مستقیمه توګه اداري فساد سره مبارزې او یا د اداري فساد مخنیوي پورې تړاو نه لري. | |
| ۵ | د کرنې وزارت باید د یاد وزارت له خوا د ټاکل شوې کمیټې مسوولیتونه او دندې په واضح او روښانه توګه مشخصې کړي ترڅو د یاد پلان د پلي کیدو څخه د هر فعالیت د شاخصونو پر بنسټ، څارنه وکړي | د ۱۳۹۷ کال د وري دیارلسمه-<br>یادې کمیټې د ۲۰۱۷ کال لپاره د نوموړي پلان د پلي کیدو په تړوا راپور یواځې له ریاستونو له خوا د ترلاسه شویو معلوماتو په بنسټ، چمتو کړی دی. | |